**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

سمیع الدین افغاني

٢٠١٤/٠٥/١٠

# د مور زړه

## یوه لنډه کیسه د مور د ورځې په مناسبت

یو کیسه د یوې ښکلې ناوکۍ
وه حسینه په مثال د ښاپیرۍ

د ښکلا شهرت یې ډیروه بې انداز
چې پرې خپله وه اګاه لدغه راز

ډیر ځوانان يې د ښکلا وه خریدار
کبرجنه ډیر مغروره په رخسار

ښکلی ځوان وه په هغې زړګي بایللی
هغه حسن يې زړګي تر ګوګل وړی

په خپل فکر کې با عزمه با ایمان
ښکلې پیغلې ته بې اظهار کړه خپل ارمان

پیغلې ولیده چې ځوان دی هسې ښکلی
چی په ما باندی بې خپل زړګی بایللی

چې دځوان اظهاریې واوریدپه ښه شان
ورته وړاندې کړه خپل شرط په هغه ان

که دې شرط راته قبول کړه زه یم ستا
بی له شرطه به دې نشمه لیلا

ځوان ویلې چې هر شرط ته یم تیار
راته وایه چې زه نلرم قرار

ویل چې شرط مې دی مشکله که پوهیږې
همدا اوس به د مور کورته روانیږی

مور دې مړه کړه ماته راپوړه لړمون
پس له هغه به کامیاب شې په ازمون

زه به ستا شمه ژوندون کې تل مدام
که قبول کړې زما شرط زما مرام

ځوان په منډو دخپل کور په لورې سر شو
د خپل مور ته رسېدلو په تکل شو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هلته ګوري چې بې مور په خوب بيده وه
بې خــبره دخپل ځـــوی پـدې قصه وه

لـوی چاړه يې دخپل مور په ګوګل سرکړ
سمـــدستي يې دخپل مـــور ځيګر بهرکړ

دا ځيګر يې کړ په لاس په منډو سر شو
د جـلـې پـــه لـور بې عـــزم او سفر شو

ورخطـــا د هـــغې پيغلې په لــور سر وه
ليونـــي د خپلـــه ځــانـــه نـــا خبر وه

چې نا څاپـه يــې پښه شوه لار کی بنده
را ګـــوزار شـــو د يوغت کانی تر څنګه

دی په خپل درد او فـريـاد باندی اخته شو
مور ځيګر هلته ګـوزار او کللـولـــه شو

مـــور ځيګـــر نـــه دا اواز شولـــو بهر
آه، پاک ربــه چــي مي ژوبــل شـو پسر

د اواز پـــه اوريـــدو پـــه چغـهار شـــو
ځوان په هغه سات دخــوبه را بيدار شـو

چې د خوبه يي سر جګ کـــړ دم ساعت
مور بې سر ته ورتـــه نـــاسته په هيبت

موري غږ وربـاندي وکړ ځويـــه څه دي
بيا ناارامـــه وې خوبـونـه دې درانه دي

ځوان چي خپل مــور ته له ورايــه وکتل
له هيـــبتـه يـــي پښو تـــه ودانـــګـــل

ويـل مـور جـــاني زه يم ستا اصلي قاتل
ما تـــه عـــفه کـړه انصاف نه وم غافل

تا روزلی يــم خپل نفس کي تـر دی دمه
چي ژوندی يـم زه بـــه ستا قـدر ساتمه

خوږ موجود يي ته خلقت د پاک سبحان
ستا دا پـــاکي عـــاطفي تـــه يم حيران

مور ده مينه مور احساس دی د ژوندن
يـــوهستي ده هـــم رڼـــا د سبـــاوون

هـغه څوک چې د مور قدر ته رسيږي
د خالق پـــدی پيرزوبـــانـــدي پوهيږي

پــه دنيا کې تر هر څه نه خوږه مور ده
مور نعمت ده مور ښکلا د هريوکور ده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ